# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ
۲۰ جنوری ۲۰۱۸


# السَّوادُ الاعظم- ۵

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**دریمه مسئله**

داده چې په هر نیک اوبد پسی لمونځ حق وبولی. ځکه چې رسول صلی الله علیه وسلم ویلی: صَلُّوا خَلَفَ کُلِ بِرِ وَفَاجِرٍ. لمونځ وکړی په هرنیک اوبد پسی.اگر که هغه کس زانی وی یا لوطی یا میخور.اویا ورته څوک. په ځاصه توگه چې سنی وی اوجماعتی اومبتدع نه وی په هغی پسی لمونځ روادی.

مگرپه کافر اومبتدع اوښځه اوماشوم پسی لمونځ ندی روا اوروافض په هیچا پسی لمونځ روا نه بولی. اوروایت دی له مکحول شامی څخه چې دخپلی ناروغی په وروستیوکی یی یارانو ته وویل:

ځلورشیان می له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی چې تراوسه می تاسو ته ندی ویلی، اونن یی وایم: لومړی داچې کافرمه بولی هغه کس چې ستاسو له ملت څخه دی اگرکه کبیره گناوی ولری. اوپه هرمړی پسی چې له ملت څخه وی لمونځ وکړی او په هر امام پسی لمونځ وکړی  اوله هر امیرسره جهاد ته له کفارو سره لاړ شی . اوهرڅوک چې په هرنیک اوبد پسی لمونځ کول حق ونه بولی هغه مبتدع اوهوا داره دی. دومره بس دی هوښیار لره.

**ځلورمه مسئله**

داده: چې هیڅوک داهل قبلی څخه  کافرمه بولی په گناه کولو سره. ځکه چې دسنت اوجماعت مذهب دادی: چې که یو مومن سل زره  مومنان مړه کړی، یا سل زره ځله زنا وکړی، یا کلونه کلونه شراب وڅښی؟ له مسلمانی څخه نه بهرکیږی ترڅو کافر نشی.  اومسلمان که هرڅومره بدکرداره وی له مسلمانی نه وزی ترڅو کافر نشی، اودا عقلی اونظری دلیل دی.

اوحق تعالی زانی اوشراب خور اوقاتل ته دتوبی فرمایلی اوتوبی ته یی بللی اوټول یی مومنان بللی او ویلی: يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا اِلَی اللهِ تَوبَةً نَّصوُحاً.

اوکه داکسان په گناه سره کافرکیدای نو بایده و چی داسی یی ویلی وای: یَااَیُّهَاالْکَافِرُونَ تُوبُوا اِلَی اللهِ. اوبل ځای یی ویلی: وَتُوبوُا اِلَی اللهِ جَمِیعاً اَیُّهَاَالْمُئْومِنونَ. اونه یی دی ویلی: اَیُّهَاالْکَافِروَنَ..

اوکله چی دآدم زلت واقع شو وویل: وَعَصَی آدَمَ رَبَّهُ فَغَوی. وویل : آدم عاصی شو. ویی نه ویل چی کافرشو. اوکله چی موسی علیه السلام قبطی مړ کړ. ویی نه ویل چی وَ کَفَرَ او وویل فَغَوی. اوهاروت اوماروت چی هغه زلت ترسره کړاوددی جهان عذاب یی غوره کړدهغه جهان په عذاب باندی، دکفر رقم یی پردوی کش نکړ.

پس باید پوه شو: چی هیڅوک په گناه کولو سره نه کافرکیږی. اوپه خبر کی دی: چی درسول الله صلی الله علیه وسلم څلوینتو یارانوچی حاضر و وویل: مونږ گواهی ورکوو چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی: چی اوه شیان دمسلمانی دی، اوهرچاچی له دی اوو څخه سر وغړاوه دسنت اوجماعت له لاری څخه بی لاری شوی دی.

لومړی: داده چی اهل قبلی باندی به شاهدی نه ورکوی په کفریا شرک یا نفاق سره اوسِریی خدای ته پریږدی.

دوهم: هرڅوک چی داهل قبلی څخه مړ شی نو دجنازی لمونځ پسی وکړی.

دریم: په هرنیک اوبد پسی لمونځ وکړی اودجمعی او عیدینو لمونځونه وکړی.

څلورم: له دښمنانو سره جهاد وکړی اوله امیرانو سره مرسته اویاری وکړی که عادل وی یا جابر. اوخپلو امیرانو ته دخیر دعا وکړی، اوبده دعا مه کوی،اگر که ظالم هم وی. اوپه خپل امیر پسی توره مه راباسی اگرکه ظلم وکړی.

اوبل له ټولو هوادارانو اومبتدعانو څخه لیری اوسی ځکه دوی به باطله دی.

پس په حقیقت سره پوه شه : که چیری یو کس ډیری گناوی وکړی، اوهغه گناه وبولی په حقه سره هغه مومن دی پرته له شکه. اوکه توبه وکړی خدای تعالی هغه ښنی. اوکه پرته له توبی له نړی څخه ولاړ شی، هغه دحق تعالی په مشیت(خوښه) کی دی. که وغواړی نو په خپل فضل سره به هغه وښښی اوکه وغواړی هغه په خپل عدل سره عذاب کړی دگناه په اندازه اوبیا هغه په خپل رحمت سره جنت ته بوزی.

هرڅوک چی ووایی: چی مومن بنده په گناه کولو سره کافرکیږی، هغه حروری دی اوخوارج.

اوهرڅوک چی ووایی: چی که مومن هرڅومره گناه وکړی هغه دته زیان نه اړوی، هغه مرجئی دی. اوهرڅوک چی ووایی چی که مومن گناه وکړی او وروسته توبه وکړی، حق تعالی به هغه وښښی. اوکه پرته له توبی له دنیا ولاړشی، نو دخپلی گناه په اندازه به هغه عقوبت کړی اوبیا به یی جنت ته بوزی، هغه کس سنتی دی اوجماعتی. دغه اندازه بس ده هوښیار لره.